د سلام نړیوال علمي ژورنال
Salam International Academic Journal
*Journal Homepage: https://journal.salam.edu.af*
لسم کال، شمیره ۱۷، پسرلی، کال ۱۴۰۴هـ ش

# د کډوالۍ پر مهال د افغان فرهنګ ساتنه؛ ننګوني او فرصتونه

# Preservation of Afghan Culture During Migration: Challenges and Opportunities

پوهنیار نورالله حقمل [1]

DOI: 10.64104/v10.Issue.17.n7.2025

ISSN: 3078-9583 (Online)   ISSN: 3078-9575 (Print)
تاریخ نشر: ۱۴۰۴/۰۵/۰۸   تعداد صفحات: ۱۳   از صفحه ۱۱۳ تا ۱۲۵

## لنډیز

په دې مقاله کې د کډوالۍ پر مهال د افغان فرهنګ ساتنه؛ ننګوني او فرصتونو اړوند موضوعاتو را سپړل سوې دي، چې کډوالي څه ته ویل کیږي او د کډوالۍ پر مهال افغان وګړي کومې فرهنګي ننګوني او فرصتونه لري. ددې څیړنی اهمیت په دې کې دی، چې لوستونکو ته په لنډ ډول د افغان کډوالو ستونزې ور وپیژنی او تر څنګ یې حل لاری هم ورته په ګوته کړې، دا چې افغانستان تقریباً دا پنځه لسیزي کیږي د جنګ میدان پاته سوی دی، نو ځکه یې وګړي د لوی شمیر ګډوالۍ شاهدان دي. په کډوالۍ کې ځیني وخت داخلي بیځایه کېدنه رامنځته کیږي او کله نورو هیوادونو ته تر سره کیږی؛ نو د کډوالۍ پر مهال دا یوه حتمي خبره ده، چې د کډوالو فرهنګ یو ډول نه ډول تر اغیزلاندې راځي، خو تر څنګ یې یو شمیرفرصتونه هم رامنځته کیږي. ددې لپاره چې اړوند ننګوني او فرصتونه په ګوته او وپیژندل سي؛ د همدې مقالې په منځپانګه کې تر یوې اندازې را شپړل سوې دي، چې همدې مقالې موخه یا هدف ترې څرګندیږي. نو موږې موخي د تر لاسه کولو لپاره مې د څیړنې د کتابتوني ډول له لارې د لیکوالو بېلابېل کتابونه او مقالې ولوستلې او یاده څیړنه مې د تشریحي کړنلارې په مرسته تر سره کړه.

**کلیدي کلمې: افغانان، کډوالي، فرهنګ، فرصت.**

[1] پښتو څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، روزګان د لوړو زده کړو مؤسسه، ۰۷۰۸۳۴۳۶۸۷، noorullahhaqmal1@gmail.com

استفاده از مقالات مجله با ذکر نام و مصدر مجاز می باشد
The use of the journal's articles is permitted provided that the author's name and the source are properly cited.

## سریزه

کډوالي د بشري تاريخ يوه نه بېلېدونکي پديده ده، چې د مختلفو سياسي، اقتصادي او ټولنيزو عواملو له امله پيښېږي. افغانان، چې د بېلابېلو دلايلو له مخې له خپلې خاورې کډوال سوي، اوس د نړۍ په ګڼو هيوادونکې ميشت دي. که څه هم کډوالي له ګڼو ستونزو سره مل وي، خو په عين حال کې د فرهنګ د تبادلې، نړيوال معرفت او د افغـاني هويـت د تـرويج لپـاره نوي فرصتونه هم رامنځته کيږي.

په دې مقاله کې د کډوالۍ پر مهال د افغان فرهنګ د ساتنې اړتيا، ننګوني او نور اړوند مسائل تر بحث لاندې نيول سوي دي، چې افغان کډوال عملاً ورسره مخامخ دي راغونډ او تحليل سوي دي. افغان کډوال کولای سي دا مسائل د خپل فرهنګ د بقا او ودې لپاره په کار يو سي. د خپلې ژبې، دودونو، هنر، خوراکې توکو او ټولنيزو ارزښتونو ساتنه د کډوالو لپاره يوه مهمه مسئله ده، ځکه په بهرنيو هيوادونو کې اکثراً کډوال د خپل فرهنګي هويت له ضعيفېدو سره مخا مخ کيږي.

د دې تر څنګ، په دې مقاله کې هغه ننګوني تر بحث لاندې نيول سوي، چې افغان کډوال ورسره لاس او ګريوان دي، لکه د پردي فرهنګ تر اغېزو لاندې راتلل، د نوې نسل د هويتي ستونزو زياتيدل او د خپلو دودونو د هيريدوخطر. په پای کې، د هغو فرصتونو يادونه سوې ده، چې کډوال يې د خپل فرهنګ د معرفي، ترويج او نړيوال کيدو لپاره کارولی سي، لکه د ټولنيزو رسنيو، تعليمي بنسټونو او سوداګريزو فرصتونو له لاري د افغاني فرهنګ ترويج. دا څېړنه ځکه مهمه ده، چې افغان کډوال څنګه کولای سي خپل فرهنګي هويت وساتي، د هغه د له منځه تلو مخه ونيسي او همداراز له نړيوالو ټولنو سره د متقابل تفـاهم او فرهنګـي تبادلې زمينه برابره کړي.

### د څېړنې موخې

۱ـ د کډوالۍ ډولونه او افغان فرهنګ پيژندل.

۲ـ د افغان کډوالو لپاره د فرهنګ ساتنې اړتيا او ننګوني تشريح کول.

۳ـ د افغاني فرهنګ په ساتنه او ترويج کې د ټولنيزو رسنيو او فرهنګي پروګرامونو رول څرګندول.

### د څېړنې پوښتنې

۱ـ افغان کډوال د خپل فرهنګ د ساتنې لپاره کومې لارې چارې کارولی سي؟

۲ـ په کډوالۍ کې د افغاني فرهنګ د تضعيف يا له منځه تلو عوامل کوم دي؟

۳ـ د کډوالۍ پر مهال افغانانو ته د فرهنګ ساتنې او ترويج لپاره کوم فرصتونه سته؟

### د څېړنې اهميت

ددې مقالې ارزښت په دې کې دی چې د افغان کډوالو د فرهنګ ساتنې، پراختيا فرصتونو او ننګونو اړوند مهمې مسايل څيړي. تر څو څرګنده سي، چې افغان کډوال د کډوالۍ پر مهال له کومو فرهنګي تهديدو نو سره لاس او ګريوان دي او تر څنګ يې کوم فرصتونه لري. تر څو حکومت يې د ننګونو په وړاندې پاليسۍ جوړې کړي او له فرصتونو څخه ښه او مؤثره استفاده وسي. ددې څېړنې موندنې د داخلي او بهرني ليکوالو لپاره هم ارزښت لري.

**دڅېړنې ميتود:** ددې ډول کتابتوني دي، چې د بېلابېلو ليکوالو له کتابونو او مقالو څخه ګټه پورته سوې ده او مواد يې د تشريحي کړنلارې په مرسته تحليل او تشريح سوي دي.

### د کډوالۍ پیژندنه

کډوالي له خپل وطن نه بل ځای ته د لیږدولو په مانا ده او په اصطلاح کې په یو هیواد او سیمه کې میشتیدل دي. په بل عبارت سره کډوالي د ظلم او تجاوز، فقر، ناروغۍ، سیاسي مسایلو، طبیعي افتونو، جنګ، بیکارۍ او د امنیت د نشتوالي له کبله له یوه ښار یا هیواد څخه بل ښار او هیواد ته د کوچیدلو، د یو وطن پرېښودلو او په بل وطن کې میشتیدلوته وایي. د کډوالۍ بل دلیل کیدای سي د ژوند مناسب شرایط او عوامل لکه، زیاته ګټه، زده کړه، سیاسي جلب، سیاسي ازادي او ښه روغتیایي امکانات وي.

کډوالي د جمعیت د جغرافیایي یا مکاني تحرک یوه بڼه ده، چې د دوو جغرافیایي واحدونو تر منځ تر سره کیږي او ویل کیدای سي، چې کډوالي د بشر له ټولنیز ژوند سره په یوه وخت کې منځ ته راغلي ده. په تاریخي دورو او د انسانانو په ژوندانه کې د تعلیمي، اقتصادي، ټولنیزو او د سرشمیرنو د لاملونو پر بنسټ کډوالۍ سوې دي(اریانا دایرة المعارف، ٦ ټوک،۱۳۹٦؛۷۷٦).

زموږ جغرافیه د تاریخ په اوږدو کې د کډوالي خورا اوږد تاریخ لري، په ځانګړي ډول د اریایانو کډوالي، چې اته زره کاله پخوا د افغانستان په شمال کې د نفوسو د زیاتوالي له امله کډوالۍ ته اړ سول. په دې توګه یې د خپل ټاټوبي ختیځو، لویدیځو او سهیلي سیمو ته کډه وکړه. که څه هم د هغوی د کډوالیدواصلي لاملونه نه دي په ګوته سوې، خو داسي ښکاري، چې د اقلیمي شرایطو سختوالی، د وګړو زیاتیدل او د څړځایونو کمښت ددې چاري لامل سول. هغه څه چې له تاریخي څیړنوڅخه تر لاسه کیږي، دا مسئله جوتوي، چې اریایانو له میلاد څخه درې زره کاله مخکې د کوچیانو قبیلو په بڼه د اریانا په ډیره لرې پرته ختیځه سیمه د پامیر فلات په لویدیځ کې میشت سول او ځیني په دې باور دي، چې هغوی د هندوکش غرونو شمالي سیمو ته و کوچیدل او هلته میشت سول. د افغانستان د اوسني لوی شمیرکډوالو سرچینه په افغانستان کې د ثور له کودتا څخه وروسته پیل کیږي.

د ۱۳۵۷ کال د غویي د اوومي له کودتا وروسته، په ځانګړي توګه دوو ګاونډیو هیوادونو پاکستان او ایران ته د افغانانو د کډوالۍ لړۍ پیل سوه. د ۲۰۲۴ کال دسپتمبر په ۲۲ د (*UNHCR*) **د** راپور په اساس په پاکستان کې د افغان کډوالوشمیر ۲,۸ میلیونه تنه ښودل سوی دی او په ایران کې ۷۵۰۰۰۰ تنو ته رسیږي. دغه کډوالي د جګړو د مجبوریتونو او پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد د پوځونو د تیری له امله وسول، په بهرنیو هیوادونو کې د کډوالو استوګنه په هغو شرایطو پوري تړلې ده، چې د کډوالي د قانون له مخې ټاکل کیږي، له دې قوانینو سره سم له رسمي تائید پرته کډوالي کیدای سي یوه سر غړونه وبلل سي او دولتونه معمولا د غیر قانوني کډوالي لپاره توقیف او بند ټاکي(آریانا دایرة المعارف، ٦ ټوک،۱۳۹٦؛۷۷۷).

### د کډوالۍ ډولونه

کډوالي دوه ډولونه لري، یو بهرنۍ کډوالي دئ او بل داخلي کډوالي ده.

۱ـ بهرنۍ کډوالي: د هیوادونو تر منځ کیږي او کډوال له یوه هیوادنه بل هیواد ته کډوالي کوي، ځیني بهرني کډوالي د طبیعي منابعو او پانګي او یا د زیات اجرت او هوسایني لپاره کیږي، چې هغوی ته اختیاري کډوالي ویل کیږي، په دې ډول کډوالي کي مبتداء هیواد په اقتصادي ستونزو اخته وي.

۲ـ داخلي کډوالي یا بې ځایه کیدنه: دا هغه کډوالي ده، چې کډوال د یو هیواد په کورنیو سیمو کې ځای پر ځای سي. دا ډول کډوال پر دوو برخو ویشل کیږي، لکه ورځنۍ کډوالي، چې د کارځای او یا د ښارونو له خدماتو څخه د ګټي اخیستني

لپاره د ښاري سيمو او يا له ښاری سيمو کليوالو سيمو ته د کار و بار لپاره ځي او مابنام بيرته خپلو کورونو ته ځي. دوهم ډول يې موسمي کډوالي ده، چې خلک په يوه موسم کې يوځای او په بل موسم کې بل ځای وی، لکه زموږ کوچيان، چې له موسم سره سم خپل کډوالي د موسم په تغيير سره يوې سيمې بلې سيمې ته تر سره کوي(آريانا دايرة العارف، ٦ ټوک،١٣٩٦؛٧٧٨) او (*McGrath & Mayes,2022;4*)

## د کلتور د کلمې پيژندنه

د "کلتور" کلمه د لاتيني ژبې د (*cultura*) له کلمې څخه سرچينه اخلي. د لاتيني "*cultura*" کلمه، چې له کرني څخه اخيستل سوې، مانا يې کرل، پالل او وده ورکول دي. دا مفهوم وروسته د فکري، اخلاقي او ټولنيزو ارزښتونو د ودې او پالنې لپاره وکارول سو. مگر دې کلمې د لرغوني روم په زمانه کې نوري ماناوې هم درلودې، لکه ښوونه او روزنه، اصول، قانون، قضا، شخصيت او ادب مانا لرل او ادب بيا د کلتور مانا لرله(بهاند،٢٠١٥؛٥)

په اوسني مفهوم کلتور يا فرهنگ خورا لويه ساحه په خپل ځان کې رانغاړي لکه، ولسي ټولنې، ټولنيز دودونه، کيسې، دم، درود، جادو، اقتصادي، اداري تنظيمونه، تعليم، تربيت ادب قانون، فلسفه، اخلاقيات، علوم او فنون، نقاشي، لوبې او داسې نور، چې د ولسي ژوند له هر اړخ سره متعلق عمل وي د کلتور يا ثقافت په دايره کې شميرل کيږي(زغم، ١٣٩۴؛١٠). نو د عامه ذهنيتونو سير په بېلابېلو مرحلو کې ځانگړي عوامل او ارزښتونه لري، چې له فردي او چاپيريالي عواملو څخه عبارت دي. په فردي عواملو کې ذهني تصويرونه، عقايد او تمايلات اغيزمن کيږي او په چاپيريالی کې ټولنيز، سياسي او مذهبي ډلې او اقتصادي بنسټونه اغيزمن کيږي (ناظم،١٣٩١؛٢٠). د بشريت د پرمختگ په تاريخ کې زموږ تهذيب خورا ستره ونډه اخيستې او د عقايدو، نظرياتو، علم او فن، ادب او فلسفې او حکومت کولو په ټولو ډگرونو کې يې پياوړې ياد گارونه پرې ايښي او تر ليرې سيمو پوري اثار او علايم يې پرېښولي دي (حسني السباعي،١٣٨٩؛٧٣).

## د کډوالي او کلتور ترمنځ اړيکه

دا چې انسانان ځيني وخت کډوالي ته د ځينو ستونزو له امله مجبوره کيږي؛ نو خلک د ټولنې او چاپيريال په تغيير سره په نوي چاپيريال کې له بدلونونو سره مخ کيږي، ځکه کډوالي او فرهنگ يو پر بل اغزمنی اړيکې سره لري. کله چې خلک له خپلې اصلي سيمې بلې سيمې ته کډوال سي، د دوی فرهنگ له نوي ټولنې سره تعامل کوي، دا تعامل هم د کډوالو پر هويت او هم د کوربه ټولنې پر فرهنگي جوړښت اغيز کوي. ځکه د ټولنې متشکله عناصر تغيير سوې او اضافه سوې دي.

زموږ فرهنگي اثار که منقول يا غير منقول وي د افغانستان په خلکو پوري اړه لري او د ټول بشريت د فرهنگي ميراثونو د تکامل په لاره کې، پوره ونډه لري او ساتنه يې د افغانستان د خلکو او دولت دنده ده(دقيق،١٣٩٢؛٣٩١).

که موږ له خپل وطن څخه کډوال سو، زموږ فرهنگ د نوي ټولنې له فرهنگه په مستقيم ډول متاثره کيږي. ځکه غير منقول فرهنگ مو په لومړي هيواد کې پاته کيږي او ساتنه يې سمه نه تر سره کيږي او په دوهم هيواد کې مو منقول فرهنگ په هغه ډول نه ساتل کيږي لکه څنگه چې په اصلي ټاټوبي کې ساتل کيږي.

کوم ملتونه چې شتمن تاريخ ولري، د نړۍ په ملتونو کې محترم ځای مومي، دنياوال ورته د يوه مهذب قام په سترگه گوري او دلچسپي يې ور سره زياتيږي. مصر-او يونان چې په نړۍ کې محترم بلل کيږي يو علت د دوی تاريخی شالید دی (غضنفر،١٣٩٣؛٣٠۴). که څوک له خپله ملکه کډوال سي؛ فرهنگ يې کمزوری کيږي او د انزوا پر لور حرکت کوي. ځکه وايو، چې فرهنگ او کډوالي يو له بل سره اړيکه لري. زموږ خلک ممکن دې ته ډېره توجه هم ونه کړي، ځکه خبره د ټول ملت ده او

پر فردي يا شخصي ګټو ولاړه نه ده، موږ ته، چې کله ميلمه راسي په کور کې يې عزت کوو، که په موټر کې سپرېږو بيا د نوبت پروا نه لرو، که کور مو چټل وي د پاکولو هڅه يې کوو او که کوڅه چټله وي پروا يې نه لرو؛ ځکه نيغه ګټه يې نه راته محسوسيږي(غضنفر،۱۳۹۳؛۵۵۷). کډوال چې نوي فرهنګ ته ورګډ سي، دوی ته د نوی ژبی زده کړه له نورو خلکو سره اړيکه ټينګول او د مختلفو ټولنيزو ارزښتونو ته درناوی او پرځان تطبيقولو ته اړتيا پيدا کيږي. دا پروسه کولی سي چې د دوی فرهنګ ته بدلون ورکړي يا د نوي ټولنی د فرهنګ يوه برخه سي(*Ainslie,2017;704*).

### د افغان فرهنګ ارزښت او د ساتلو اړتيا

د افغان فرهنګ ارزښت په دې کې دی چې دې فرهنګ کې زموږ تاريخ، هويت، ژبه، دودونه او ټولنيز ارزښتونه نغښتي دي. د افغان فرهنګ ساتنه نه يوازې د افغان ملت د تاريخ او هويت خونديتوب کولو لپاره اړينه ده، بلکې په هغه کې د راتلونکو نسلونو لپاره د هويت يو قوي بنسټ نغښتی دی. دا ستا هويت دی، چې تاته جهانبيني او ايډيالوژي درکوي، ارزښتونه او د ارزښتونو ضد دي در ټاکي او لاره درته ښيي (ازمنديال،۱۳۹۱؛۴۲) څو مهم ټکي يې په لاندې ډول دي:

تاريخي او فرهنګي ميراث: په اوسني بلخ کې، چې کله ارياييان ميشت سول د يوه منظم تمدن بنسټ يې کيښود او ښاري ژوند يې غوره کړ، يما، يمه ـ جم يا جمشيد دلته خپله پلازمينه جوړه کړه، ديوالونه يې تري راوګرځول، لوړ بيرغونه يې پرې ورپول، منظمي، لمر مخي او پاکي وداني يې پکي جوړي کړي د ميوواو غلو ښه تخمونه يې وکرل او په خپله لارښوونه او تدبير يې هيواد اباد کړ او ام البلاد يې رامنځته کړ. د همدې بلخ زوړ نوم بخدي، بخت، پخت او پښت دی، چې يونانيانو پکهت تري جوړ کړ؛ د پښتو کلمه هم له همدې ريښې څخه راوتلې ده(رفيع،۱۳۹۴؛۱۹). افغان فرهنګ د زرګونو کلونو وياړ لري، له ادبياتو څخه تر هنر، موسيقۍ، معماري او دودونو پورې، دا فرهنګ د نړۍ په کچه ځانګړی او بډايه دی. حتی د افغاني فرهنګ ساتنه د نړۍ د فرهنګي تنوع يوه برخه ده.

ژبه او ادب: ټولنه له انسانانو جوړيږي او انسانان حتماً د يوې ژبې څښتنان وي، څومره تاريخ چې يوه ټولنه لري، هغومره تاريخ د هغې ټولنې ژبې هم لري (غوربندي،۱۳۹۷؛۳۶)د افغان فرهنګ يوه مهمه برخه د پښتو او دري ژبو ادب دی. دا ژبې نه يوازې د افغانانو د اړيکو وسيله ده، بلکې د فکري او فرهنګي ميراث له اړخه هم ارزښت لري . د دې ژبو ساتنه او پراختيا د فرهنګ د ساتنې لپاره ضروري ده. ځکه د خلکو د فرهنګي سيستمونو په برخه کې چې کوم بدلون راسي، اړونده ژبه يې هم يوه اندازه خامخابدليږي (هوتک،۱۳۹۰؛۳۵). نو ځکه يې ساتنه ډېره اړينه ده.

دودونه او ارزښتونه: افغانان خپل ځانګړي دودونه لري لکه ميلمه پالنه، کورنۍ ارزښتونه، ادب او درناوی او ټولنيز اړيکې دا ټول د افغان فرهنګ يوه برخه جوړوي. د دې دودونو ساتنه د ټولنې د انسجام او پرمختګ لپاره هم اړينه ده.

د نړۍ ليکوالانو هم دې برخې ته اشاره کړې ده، هغه ليکوال، چې د افغانانو په اړه يې خيرنی کړي او يا کوي يې، په دې باور دي، چې افغانان ميلمه پالنه يوازي د دود په حيث نه بلکې د ننګ او غيرت تر پولي رسوي(نور،۱۴۰۱؛۵۴)

يووالی او اتحاد: د افغان فرهنګ بله مهمه برخه يووالی او ګډ ژوند دی . د دې فرهنګ ساتنه د ټولنيزې همغږۍ او د مختلفو قومونو ترمنځ د اړيکو ټينګولو لپاره يوه اړتيا بلل کيږي. افغان فرهنګ په بېلابېلو قومونو کې او د لويو کورنيو يوځای ژوند کولو ته ځانګړی ارزښت ورکوي.

زموږ ليکوالو د قبيلوي اصطلاحي قاموسونو په ليکلو پيل کړي دی دا ډول کارونه ددې تر څنګ چې د قبيلوي اتحاد لپاره ارزښت لري بلکې زموږ د فرهنګ پيژندنې لپاره هم خورا اړين بلل کيږي(عطايي،۱۳۵۷؛۲۹).

### د کډوالي پر مهال د افغان فرهنگ ننگوني

دا یوه حتمي خبره ده، چې کډوالۍ افغانان له یوه نوي چاپېریال سره مخا مخ کړي او هم یې په راتلونکې کې کوي. په دې نوي چاپېریال کې د دوی ژبه، دودونه، ادبیات، ارزښتونه او فکر له بل ډول ټولنیزو سیستمونو سره مخ کیږي، چې د ژبې، دودونو، ادبیاتو او په ټوله کې د ملي هویت ساتلو له یوې جدي ننگونې سره مخ کیږي ، ځکه چې د پردي فرهنگ اغیزې ډېر په چټکۍ سره د کډوالو فرهنگ ساتنه له خنډ سره مخامخ کوي، په ځانگړي ډول د دویم او دریم نسل لپاره ( *McGrath & Mayes,2022;1*)

### ژبنۍ ننگونې

پښتو او دري ژبې د افغانانو د هویت مهمې برخې دي، خو کډوالي دا ژبې له گواښ سره مخ کوي. ماشومان او ځوانان چې بهرني تعلیمي سیستم ته داخلیږي، ډېر ژر خپلې مورنۍ ژبې ته شا کوي. په اوسني دور کې زموږ اکثر کډوال، د اړوند هیواد د ژبې کورسونه وایي او زیات وخت پردې تیروی، چې هغه ژبه زده کړي. ځکه هغه کډوال د مفاهمې او اقتصادي ستونزو حل ته مجبور دی او هغه دواړه د اړوند هیواد د ژبې په زده کړه حل کیدای سي؛ ځکه د یو کارمند لپاره دا اړینه خبره ده، چې د وظیفې موندلو لپاره د هغه هیواد ژبه زده کړي.

د یوې څیړنې پر اساس افغاني اصله امریکایي والدینو د ځوانانو ترمنځ د دري ژبې د له منځه تگ په اړه اندېښنې ښودلې. د څیړنې په پایله کې ښودل سوي، چې د خپلې مورنۍ ژبې د زوال او اصلي کلتور ته د نه ستنیدو په اړه افغانې کورنۍ د امریکا نورو کډوالو ته ورته د جذبیدولو فشارونو سره مخ دي. په دې څیړنه کې له بیلا بیلوکورنیو څخه ۲۷ افغانو والدینو گډون کړی؛ دوی باور درلود چې دري ژبه د دې له امله مخ پر زوال ده چې افغان ـ امریکایي ماشومان له انگلیسي ژبې سره عادت سوي، په کور دننه او هم په عامه ځایونو کې غواړي چې د اصلي امریکایي کلتور سره ځان برابر کړي(*Saydee, 2014;77*).

پښتو ژبه، چې د نړۍ د پنځوسو معتبرو ژبو په کتار کې ولاړه ده او بډای ادبیات لري(فاضل،۱۳۹۳؛۲۹) ولې د افغان کډوالو په خبرو کې د مربوطه هیواد د ژبې کلمې له ورایه ښکاري. ښه مثال یې نژدې پاکستان دی، که څه هم زموږ کډوال اکثره په پښتون میشتو سیمو کې اوسیږي خو د انگریزي ژبې الفاظ یې په ژبه کې دومره گډ سوي دي، که د چا انگریزي زده نه وي د دوی له خبرو پوره مفهوم نه سي اخیستی. د بېلگې په ډول سړک ته روډ وایي او اړخ یا بغل ته سایډ وایي، چې دا دواړه د انگریزي کلمې دي.

مهتاب، چې د هزاره توکم او شعیه مذهب لرونکې ښځه ده، له یوه ایراني سړي سره یې واده کړی و او شل کاله یې په ایران کې ورسره ژوند تیر کړی . هغې د ایراني نژادپالنې نه زغمل کیدونکی درد داسې بیان کړی: زما لهجه نه خالصه افغاني ده او نه هم خالصه ایراني، ایرانیانو ته زه د بل ښار یا بل هیواد یم. کله چې پوښتنه کوي چې زه له کومه راغلې یم؛ زه چې ورته وایم افغانه یم، نو رانه مخ اړوي او خبرې راسره نه کوي. کله کله هغوی د افغانانو اړوند بدې خبرې هم کوي(*Rostami,2007;247*).

### د دیني ارزښتونو ننگوني

که څه هم افغانان تر اسلام مخکې هم فرهنگي میراثونه لري ولې اسلامي ارزښتونه د افغانانو د فرهنگ خورا مهمه برخه تشکیلوي، خو بهرني هیوادونه اکثراً بېلابېل مذهبي باورونه لري. دا تفاوت د افغان مسلمانانو لپاره د دیني ازادۍ، حجاب او د اسلامي اصولو د پلي کیدوپه برخه کې ستونزې رامنځته کوي.

مثلاً یهودیت او اسلام دواړه د خدای (جل جلا له) بندګان د الله (جل جلا له) وحدانیت ته رابولي، خو د یهودو بـدمرغي پـه دې کې وه، چې د الله توحید یې پرېښود او حضرت عزیر (علیه السلام) یې د خدای زوی وباله(عرفان،۱۳۹۰؛٦٧٦). اوس که د افغانانو غوندي خلک، چې نیمه پیړۍ د جنګونو او پردیو د سیسو له امله، چې د توپ او ټانک پر ځای بیلابیل عقیدوي زهر لکه دهریت او کمونیستي افکارپکي کارول سوې وه، کډوال سي(خیـبري،۱۳۸۹؛۷). د دوی د تعلیمـي کچـې د ټیټـوالي لـه املـه ددوی اسلامي ارزښتونه هم له ننګونو سره مخامخ کیږي. په کډوالۍ کې د ژوند اساسي برخې یعني زده کړې ته نه لاسرسي هـم د کډوالو دیني ارزښتونه له منځه وړي؛ ځکه د علمي کچې ټیټوالي پـه وجـود راځـي. پـه ځینـو هیوادونـو کـې ظـالم رژیمونـه د کډوالو د کلتوري دودونو د عملي کولو اجازه نه ورکوي او د جاسوسانو له لارې یې شخصي ژوند څـاري، د دوی مـذهبي مراسـم محدودوي او د کلتوري مشرانو ژوند یې له خطر سره مخامخ کوي(*Saydee, 2014;90*). خو په هغه هیوادونو کې چې کډوال زده کړو ته لاس رسی ولري بیا د هغه ټولنې په فرهنګ کې دومره تداخل وکړي، چې خپله افغاني ټولنه ورته پردۍ ښکاري شریفه په دې اړه داسي وایي:

کله چې زه اووه کلنه وم له خپلي کورنۍ سره له کابله پیښورته راغلم او اوس شل کلنه یم، دلته مې په یوه ښوونځي کې زده کړې وکړې. ما په ښوونځي کې اردو او انګلیسي ژبې زده کړې. کله چې په وروستی ځل کابل ته ولاړم ترڅو خپل خپلوان ووینم، هلته مې ځان پردی احساس کړ ما له هغوی سره توپیر درلود؛ مګر دلته په پاکستان کې ما ته دا پردیتوب نه احساسیږي، بلکې داسې احساسوم چې پیښورمې اصلي ځای دی (*Rostami,2007;247*).

**د دودونو ننګوني**

د افغان فرهنګ یوه مهمه برخه زموږ ولسي دودونه دي لکه ودونه، اخترونه، د مشرانو درناوی، جرګې او نور ارزښتونه. زموږ په ټولنه کې زیاتره خلک د واده مراسم د جمعې په شپه برابروي(واسعي،۱۳۸۷؛۱۹) ځکـه د یـوې خـوا د جمعـې شـپه د برکـت او نیکمرغي څخه برخمنه بولي(*Giger & Davidhizar,2002;83*) له بـلې خـوا د جمعـې ورځ رخصـتي وي او کارونـه کـم وي. کـه څوک کډوال سي په بل هیواد کې د هغوی رخصتي د مسلمانانو له دود سره سمه نه تر سره کیږي، د بیلګی پـه ډول پـه امریکـا کې د یکشنبې ورځ رخصتي ده. که زموږ هیواد وال امریکا ته کډوال سي، د واده دودیز مراسم یې زمـوږ لـه دود سره سـم نـه تـر سره کیږي.

همداسي د مړي د فاتحې مراسم په اکثرو ځایونو کې درې ورځې وي(واسعي،۱۳۸۷؛۷۷) خو په نورو هیوادونو خلک دا دود نه لري. کله چې په یوه سیمه خلک یاد فرهنګ ونه پالي نو هغه ورسره کمزوری کیږي او کـرار کـرار لـه منځـه ځـي ځکـه دودیـز ټکرونه د کډوالو دودونه کمزوري کوي.

کډوال د نوي ټولنې له عامه ذهنیته ځان نه سي جدا کولای او عامه ذهنیتونه په ټولنه کـې د افـرادو او ډلـو د اړیکـو منځتـه راتګ، دنظریاتو له بدلون او یو پر بل باندي د اغېز پایله وي. په عامه ذهنیتونوکې یو شرط دا دی، چې د ټولنې د افرادو تر منځ اتفاق یا تضاد وي(ناظم،۱۳۹۱؛۱۸) که چیري د کډوال دودونه د نوي چاپیریال سره برابر وي؛ نو مشکل نسته که چیري تضاد ولري ددې تر څنګ چې کډوال خپل دودونه له لاسه ورکوي، همداسي کډوال له رواني فشار سره هم مخ کوي.

د بیلګی په ډول افغانان د اسلامي فرهنګ په رڼا کې تر څلورو ښځو پوري د واده کولو اجازه لـري؛ ولـې د امریکـا پـه قـانون کې یوازي یو واده ته اجازه سته. هغه افغانان چې امریکا ته کډوال کیږي مجبور دي چې یوازي یـوه ښـځه د ځـان سره کډوالـه

کړي. که يې نورې ښځې په نکاح کړي وي هغه ته به طلاق ورکوي يا به يې په افغانستان کې پرېږدي؛ نو په دې سره کډوال په رواني ستونزو اخته کيږي ځکه د خپل ژوند ملګري يوازې پرې ښودل د افغاني فرهنګ سره تضاد لري(*Smith,1903;451*) .

همداسې په ايران او پاکستان کې د ښځو ازادي تر افغانستان ډېره ده، افغان وګړي چې د همدې فرهنګ سره اشنا دي همدا فرهنګ ورته خپل ښکاري، په ايران او پاکستان کې د ښځو حقوقي ټولنې لري، چې د مؤسساتو له لارې حمايه کيږي؛ کله چې کډوال په لومړي سرکې دداسې ټولنو سره يوځای کيږي ځان پردی محسوسوي. په همدې ډول خپل هيواد ته په راتګ سره، چې د پاکستان او ايران غونډې ازادي پکې نه تر سترګو کيږي زموږ د افغاني دودونو لکه: حجاب کول، بهر نه ګرځيدل د پرديو نارينه وو سره خبرې نه کول ټولې هغه دوديزې ننګونې دي، چې افغان کډوال دوهم وار په خپل هيواد کې ورسره مخامخ وي (*Rostami,2007;249*).

**د فرهنګي واټن ننګونې**

د کډوالو دويم او دريم نسل چې بهرني چاپيريال کې لوی سي، له خپل فرهنګ سره دومره ژوره اړيکه نه لري لکه د دوی پلرونه. دا واټن د کورنيو دننه د فرهنګي ټکر لامل هم کېږي.

هغه عناصر چې فرهنګ ورځخه جوړيږي فکري يا معنوي اړخونه دي، چې فرهنګ پر مخ بيايي، فکر د فرهنګ مغز او دين يې سند او ستن ده. فرهنګ هغه وخت د ځواکمنتوب احساس کوي، چې له يو فرهنګ څخه بل فرهنګ ته انتقال سي ولې دا کار هغه وخت کيږي، چې د يوې جګړې احساس وګالل سي(لبيب احمد او ابوسمک،۱۳۸۸؛۱۱۰) دا جګړه ددې سبب کيږي، چې دوهم او در يم نسل په تدريجي ډول له خپل فرهنګ څخه فاصله ونيسي.

که فرض کړو په خواږه او ځرګند نثر د وطن ستاينې وسي، د مفکرانو له نظره د وطن اهميت بيان سي، د هيواد حقوقي مفهوم څرګند سي او د افغانستان په باره کې سياسي، جغرافيايي، فرهنګي، تاريخي او نور معلومات وړاندې سي، د وطن د مينې له زياتيدوسره به مرسته وکړي، مګر د مينې د زياتيدولپاره تر عقل حواس ډېر مهم دي، که کډوال په پردي وطن کې هر څومره د خپل وطن او فرهنګ يادونه وکړي يا يې واوري دا له هغې مينې سره برابر نه وي لکه يو څوک چې د خپل وطن يوه فرهنګي ابده يا د وطن منظره په حواسو سره درک کړي(غضنفر،۱۳۹۳؛۱۹۹). کله چې د کډوالو اولادونه له وطنه ليرې وزيږي، هغومره خپل فرهنګ نه سي درک کولای لکه په خپل وطن کې؛ نو ځکه زموږ فرهنګ د تدريجي ګوښه کيدوله ننګونې سره مخ کيږي.

فرهنګ د يو اولس معنوي، هنري، تاريخي، مذهبي او احساساتي ټولګه ده، سړی هغه وخت ځان پردی احساسوي، کله چې د حقيقي فرهنګ ټولګه له ذهن څخه پاکوي او ځای يې نوی فرهنګ ته ور خوشي کوي، چې د بلې ټولنې مولود دی (کرګر،۱۳۹۴؛۱۲۳).

په ايران کې عملاً بهرنی مؤسسې پردې کار کوي، چې څنګه افغان کډوال وروزي تر څو هغوی خپل پخواني فرهنګ ته د پای ټکی کيږدی، نوی فرهنګ قبول او خپل هيواد ته يې انتقال کړي(*Rostami,2007;250*).

**د افغان فرهنګ د ساتلو لارې چارې**

**مورنۍ ژبه د فرهنګ د ساتلو لار**

ماشوم تر ټولو لومړی له خپلې کورنۍ ژبه زده کوي. د مور، پلار او نورو کورنيو غړو خبرې، د ماشوم د اورېدو، تکرار او تمرين

له لارې، د ژبنيو مهارتونو د بنسټ ډېره ړدي. که کورنۍ له ماشومانوسره په مورنۍ ژبه خبرې ونه کړي، نو ماشوم به د خپلې ژبې د زده کړې فرصت له لاسه ورکړي.

ژبه د فرهنګ یوه مهمه برخه ده. که ماشوم خپله مورنۍ ژبه زده نه کړي، نو له خپل فرهنګي هویت، دودونو او ارزښتونو سره به کمزورې اړیکه ولري. د بیلګي په توګه احصائیو ښودلې ده، چې تر هغو ماشومانو، چې په مورنۍ ژبه زده کړه کوي، هغه ماشومان زیات مکتب پرېږدي، چې په مورنۍ ژبه زده کړه نه کوي(غضنفر،۱۳۹۳؛۵۰٦). که مور وغواړو، چې فرهنګ مو خوندي سي یوه لاره یې د مورنۍ یعني خپلې ژبې زده کړه او د کډوالي پر مهال دهغې ساتنه ده.

**د دودیزو مراسمو لمانځنه**

دودیز مراسم لکه: اخترونه، ودونه، کوزدې، جنازې، د ماشوم زوکړې او جرګې زموږ د ټولنې د فرهنګي هویت، ټولنیز یووالي او ارزښتونو ساتنې مهم عناصر دي. دا مناسبتونه نه یوازې د خوښۍ او میني څرګندونه ده، بلکې د نسلونو ترمنځ د پیوستون، ګډو ارزښتونو او د ټولنیزو اړیکو د پیاوړتیا وسیله هم د ه.

زموږ فرهنګ د ولسي دودونو له مخې بیخي بډای دی، په کوم قوم کې تر شریعت وروسته ناغه سته؟ په کوم قوم کې جرګه او مرکه سته؟ په کوم قوم کې د مشرانو له خوا د روغي جوړې نه ماتیدونکی څلی او نرخونه جوړ سوې؟ (ستانکزی،۱۳۹۳؛۹۵). د افغانانو لپاره لویه جرګه خورا لویې پریکړې کوي، د قوانینو اساس له همدې ځایه را شروع کیږي. که افغان کډوال په خارج کې دې برخې ته پاملرنه وکړي او خپل فولکلور، لکه: اسطورې، افسانې، متلونه، سندرې، نڅاوې او داسې نور(ازمون،۱۳۸۹؛۱۵۹)ژوندي وساتي؛ نو دا هم د افغاني فرهنګ د ساتلو یوه لار ده.

**خپل پلرني ټاټوبي ته سیاحتي سفرونه**

خپل اصلي ټاټوبي ته د کډوال سیاحتي سفر د فرهنګ ساتنې او پیاوړتیا لپاره څو مهمي ګټې لري. دا سفرونه د شخصي تجربو پراخولو ته زمینه برابروي او د فرهنګي هویت په بقا کې مرسته کوي.کډوال چې کله خپل اصلي ټاټوبي ته سفر کوي، دوی له خپلې ژبې، دودونو او عنعناتو سره یو ځل بیا مخامخ کیږي. دا تعامل د هغوی د فرهنګي هویت د پیاوړتیا لامل کیږي، ځکه چې دوی د خپلو اسلافو دودونه او ارزښتونه په خپله تجربه کوي او له نوي نسل سره یې شریکوي.

هغه کډوال چې له خپلو ماشومانو سره خپل ټاټوبي ته سفر کوي، خپلو اولادونو ته د خپل فرهنګ ژوندۍ تجربه ورکوي. دا سفرونه د نوي نسل لپاره د خپلې ژبې، ودانۍ، دودونو او تاریخ د زده کړې یوه غوره موقع برابروي، چې له امله یې د هغوی د خپلواک فرهنګي هویت د ساتلو چانس ډېرېږي.

د خپلو سیمو لیدنه تر دې زیاته مؤثره تامیږي، چې یو څوک هغه په شفاهي یا لیکلي ډول واوري یا یې ولولي، ځکه حسي کلمې تر نا حسي کلمو زیاتي اغیزناکه دي، مثلاً د ښایسته کلمه چې تعریف یې د هر چا لپاره بیل دي دومره موثره نه ده لکه د سپین کلمه، چې په حواسو یعني د باصرې په حس پوري اړه لري(غضنفر،۱۳۸۹؛۱۴۲). همداسي د حسي- کلمو تر اوریدلو عیني مشاهده زیاتي اغیزی لري.

**د ټولنیزو شبکو، رسنیو او ډیجیټلي وسایلو کارونه**

که چیري سیاحتي سفرونو ته زمینه برابره نه وي، بیا نو زموږ لپاره د خپل فرهنګ د ساتلو لپاره د رسنیو کارونه یوه لار ده.

رسنۍ د فرهنګ د ساتنې، ودې او خپرولو یو له مهمو وسایلو څخه دي. د ټلویزیون، راډیو، چاپي خپرونو او ټولنیزو رسنیو له لارې کولای سو خپل فرهنګي ارزښتونه وساتو او راتلونکو نسلونو ته یې انتقال کړو.

رسنۍ د ژبې د بقا او ودې لپاره مهم رول لري. راډیو، تلویزیون، ورځپاڼې، مجلې او ټولنیزې رسنۍ د دې زمینه برابروي چې خلک خپلې ژبې ته وده ورکړي او د پردیو ژبو له یرغل څخه یې وساتي. د ادبي، تعلیمي او تفریحي خپرونو له لارې افغان کډوال خپل ادبي او ژبني مهارتونه پیاوړي کولای سي.

رسنۍ د دودونو، عنعناتو او ملي ارزښتونو د ساتنې لپاره مهمې دي. مستند فلمونه، فرهنګي پروګرامونه، راډیویي خپروني او ټولنیزې شبکې د دې زمینه برابروي چې د خلکو دودیز مراسم، جشنونه، عنعنوي سندرې، اتڼونه او نور فرهنګي ارزښتونه ژوندي وساتي.

پنځوس، شپیته کاله پخوا په ټول افغانستان کې دومره پښتو ادبیات نه خپرېدل لکه د یویشتمې پیړۍ په لومړیو لسیزو کې چې مثلاً یوازې په تاند ویپاڼه کې خپرېږي، فرهنګي دنیا بدله سوې ده په دې کې رسنې لوی لاس لري. په نولسمه پیړۍ کې، چې زموږ به سیمه کې اخبارونه نه وه؛ زموږ فرهنګي نشر ډېر کم وو.خو کله چې رسنۍ را ووتلې د پېښو او فرهنګ د خپرولو لویه برخه یې پر غاړه واخیسته(غضنفر،۱۳۹۳؛۱۴۷).

نو ددې لپاره، چې خپل فرهنګ وساتو، زموږ لپاره وروستی فرصت همدا رسنۍ دي. په ننني عصر کې بهرني فرهنګونه پر ټولنه زیات اغېز لري. که رسنۍ د ملي او محلي فرهنګ د ودې لپاره کار وکړي، نو خلک به له خپل فرهنګ سره لا ډېره مینه پیدا کړي او دا به د پردیو فرهنګونو د منفي اغیزومخه هم ونیسي.

رسنۍ د فرهنګي صنایعو، عنعنوي لباسونو، محلي خوراکونو او هنري تولیداتو د بازار موندنې لپاره مهم رول لري. که د دې له لارې محلي سوداګر او هنرمندان خپل تولیدات پراخ کړي، چې نه یوازې اقتصادي ګټې لري، بلکې فرهنګ ته هم وده ورکوي.

**د کډوالي پر مهال فرهنګي فرصتونه**

**د افغان فرهنګ د نړیوال کیدوفرصت**

د نړیوال کیدواصطلاح له ۱۹۶۰ کلونو را وروسته دود سوې ده او ډېر پراخ مفهوم لري(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۷؛۷۷)کډوالي، که څه هم له ستونزو ډک وي، خو د افغاني فرهنګ د نړیوالکیدو لپاره یو ځانګړی فرصت هم رامنځته کوي. افغانان چې له خپلې خاورې بهر ژوند کوي، له نړیوالو ټولنو سره اړیکې ټینګوي، نو په دې سره د افغاني فرهنګ د معرفي کولو او ترویج لپاره زیات چانسونه برابریږي. مثلاً د کویټې انسټیټوټ د ادبیاتو فیسټیوال، د جیپور ادبي فیسټیوال، چې په ۲۰۰٦ کې جوړ سو اوس د اسیا په کچه تر ټولو لوی جشن بلل کیږي، د دې جشنونو موخه یو له بل سره د نظریاتو شریکول او یو بل اوریدل دي(غضنفر،۱۳۹۳؛۵۲۱). داسې جشنونه زموږ د کډوالو لپاره هغه فرصتونه دي، چې زموږ فرهنګ ته د لا غوړېدا چانس برابروي.

که څه هم په کډوالۍ کې مصروفیتونه زیات وي نوی چاپیریال، نوې ټولنې او نوې ژبې وي خو د پښتو، دري او نورو افغاني ژبو زده کړې ته ځانګړې پاملرنه هم کیدای سي. افغانان کولای سي د ژبې کورسونه جوړ کړي، کتابونه ولیکي او د ټولنیزو رسنیو له لارې خپل ادبي میراث نړۍ ته معرفي کړي.

نړۍ لید د جهان په اړه له انساني نظریو، مفاهیمو او تصوراتو څخه جوړ سیستم دی، چې هسته یې له عقایدو، فلسفې او نظریاتو څخه عبارت ده(همکار،۱۴۰۰؛۵۲۰) د عقایدو او نظریاتو د بیان وسیله ژبه ده؛ نو همدا د افغان کډوالو لپاره یو ښه فرصت دی، چې خپله ژبه نړۍ واله کړي.

**له نورو ټولنو سره داړیکو جوړولو فرصت**

نړیوالې اړیکې یوازې د اموالو او معلوماتو د کنټرول او په اړه یې په مشترک ډول له اړینو ګامونو پورته کولو څخه بحث نه کوي، بلکې نور ډېر داسې څه سته، چې نړیوالې اړیکې په بر کې نیسي؛ یو له هغو څخه د خلکو فرهنګ او عنعنات دي. د خلکو تر منځ د فرهنګ او عنعناتو په اړه د معلوماتو شریکول د یو بل د ښه درک کولو او ښو اړیکو رامنځته کولو لپاره خورا اړین دي. بل دا چې د نړیوالو اړیکو په جوړولو سره فرهنګي اړیکو ته هم زمینه برابرېږي، مثلاً د زده کونکو او محصلانو یو د بل هیواد ته لیږل، د ډول ډول نندارتونونو جوړول، د سوداګرو او نورو تګ راتګ د فرهنګي پوهاوي او نړیوالو ته د ورپې پیژندنې لامل کیږي(نور،۱۳۹۸؛۲۰).

**د مثبتو فرهنګونو د تبادلې فرصت**

افغان کډوال د مثبتو فرهنګونو د تبادلې غوره فرصتونه لري، ځکه دوی له بېلابېلو فرهنګونو سره مخامخ کیږي او کولای سي د خپلې ټولنې او کوربه هیوادترمنځ فرهنګي تبادله رامنځته کړي. دا تبادله نه یوازې د افغاني فرهنګ د بقا او ترویج لپاره ګټوره ده، بلکې د بهرنیو فرهنګونو له مثبتو ځانګړتیاوو څخه یې د زده کړو زمینه هم برابرېږي.

کډوالي اوس یوه نړیواله مسئله ده، ځکه یې په نړۍ کې د کډوالو لپاره بېلابېل قوانین او حقوق وضع کړي دي(نور،۱۳۹۸؛۲۰). په دې قوانینو کې د کډوالو لپاره هم د زده کړو او هم د کار لپاره اسانتیاوي برابرې سوي دي. افغان کډوال د خپل کوربه هیواد له نظم، د قانون مراعتولو، د خلکو له متقابل احترام، ګډ کار، چاپیریال ساتنې او داسې نور اصولو زده کړه کولی سې او هم یې خپل هیواد ته انتقالولی سې، ترڅو د خپل ټولنیز ژوند په ښه والي کې ورڅخه ګټه واخلي.

افغان کډوال، چې د بهرنیو هیوادونود تعلیمي او کاري چاپیریال تجربه ترلاسه کوي، کولای سې دا تجربې نورو افغانانو ته انتقال کړي. دوی کولی سې د مهارتونو د زده کړې، د عصري ټکنالوژۍ کارولو او د مسلکي پرمختګ فرصتونه له خپلو هیوادوالوسره شریک کړي.

د افغاني دودیزو جامو، لاسي صنایعو او ګاڼو معرفي کیدل د فرهنګي تبادلې بل مهم فرصت دی. افغانان کولای سې خپل دودیز لباسونه د نړیوال فیشن بازار ته وړاندې کړي او د خپل صنعت نړیوال شهرت زیات کړي.

**پایله**

د کډوالي پر مهال د افغان فرهنګ ساتنه، ننګوني او فرصتونه یو پیچلی بهیر دی، چې له یو لوري د افغان فرهنګ د هویت د بقا اړتیا او له بل لوري د بهرني فرهنګ د اغیزوسره مخامخ کیږي. دا علمي څیړنه ښیي چې ژبه، دودونه او ټولنیز ارزښتونه د فرهنګ مهم عناصر دي، چې افغان کډوال یې د ساتنې لپاره باید شعوري هڅې او کوښښونه وکړي.

که څه هم د کډوالي په جریان کې د پردي فرهنګ اغیز، تر ډېره حده د دوهم او ورپسې نسلونو د هویتي ګډوډۍ ستونزه او د افغاني ارزښتونو د ضعیفیدوخطرونه رامنځته کوي، خو په دې مقاله کې د ټولنیزو رسنیو، تعلیمي بنسټونو او فرهنګي فعالیتونو له لارې د افغاني فرهنګ د ترویج پراخ فرصتونه هم په ګوته سوې دي.

له همدې امله، افغان کډوال باید د خپل فرهنګ د بقا او نړیوالې پیژندنې لپاره منظمې هڅې وکړي، څو د مثبتې فرهنګي تبادلې له فرصتونو ګټه واخلي او د خپل هویت د ساتنې او ترویج لپاره د کوربه ټولنو له مثبتو تجربو څخه مؤثره ګټه پورته کړي چې دا نه یوازې د افغاني فرهنګ د دوام سبب کیږي، بلکې له نړیوالو ټولنو سره د متقابل تفاهم زمینه هم برابروي.

**وړاندیزونه**

- ✓ کډوالو ته دې داسې پروگرامونه برابر سي، چې د خپلې ژبې سره يې واټن رامنځته نه سي.
- ✓ حکومت دې افغاني کډوالو ته داسې پروگرامونه برابر کړي، چې افغاني دودونه ژندي وساتل سې.
- ✓ کډوال ته دې خپل هيوادته د راستنيدوپه وخت لنډ مهاله کورسونه برابر سي، چې منفي دودونه پـه افغـاني ټولنـه کـې ترويج ونه کړي.

**ماخذونه**


1. ازمنديال، علي رضا.(۱۳۹۱). **فکري ټکنالوجي**، مازيګر کتاب پلورنځی.
2. ازمون، لال پاچا.(۱۳۸۹). **فولکلور(د سمينار د مقالو ټولګه)،** دختيځي سيمې ليکوالو او ژورناليستانو خپلواکه ټولنه.
3. بهاند، لطيف.(۲۰۱۵). **کلتور پوهنه**، پښتو ادبي غورځنګ، شالکوټ.
4. حسني السباعي، مصطفی.(۱۳۸۹). **اسلامي تهذيب او تمدن**، امير کروړ کتابتون ـپيښور.
5. خيبري، غوث.(۱۳۸۹). **په افغانستان کې ټوپان**، دانش خپرندويه ټولنه.
6. دقيق، عبدالرحيم.(۱۳۹۲) **قوانين علمي او فرهنګي**، مطبعه طباعتي و صنعتي احمد ـ کابل.
7. رفيع، حبيب الله.(۱۳۹۴). **ژبساتنه**، مومند خپرندويه ټولنه- جلال اباد.
8. زغم، احمدشاه.(۱۳۹۴). **فولکلور او فولکلوري ادبيات،** د افغانستان ملي تحريک فرهنګي ځانګه.
9. ستانکزی، رفيع الله.(۱۳۹۳). **د ژباړې فن**، مومند خپرندويه ټولنه.
10. عطايي، محمد ابراهيم.(۱۳۹۴). **د پښتني قبيلو اصطلاحي قاموس**. د سرحدونو او قبايلو چارو رياست.
11. آريانا دايرة المعارف،۲ټوک.(۱۳۹۷). **آريانا دايرة المعارف**، علومو اکاډمي د دايرة المعارف رياست.
12. آريانا دايرة المعارف، ٦ ټوک.(۱۳۹٦). **آريانا دايرة المعارف**، احمد مطبعه ـ کابل، افغانستان.
13. غضنفر، اسدالله.(۱۳۸۹). **د نثر ليکلو هنر**، مومند خپرندويه ټولنه.
14. غضنفر، اسدالله.(۱۳۹۳). **کلتور او ټولنه**، مومند خپرندويه ټولنه ـ جلال اباد.
15. غضنفر، اسدالله.(۱۴۰۳). **د ژبې ښکلا**، صداقت خپرندويه ټولنه.
16. غوربندی، ميراجان(۱۳۹۷). **تاريخي او مقايسوي ژبپوهنه**، انتشارات نويسا.
17. فاضل، ولي الله.(۱۳۹۳). **د افغانستان ژبې او توکمونه**، ګودر خپرندويه ټولنه.
18. کرګر،محمد اکبر.(۱۳۹۴). **فرهنګي بحثونه**، ميهن خپرندويه ټولنه.
19. لبيب، ابراهيم، حسين، مصطفی، او ابوسمک، محمود. ژباړن: عبدالحکيم امل .(۱۳۸۸). **ټولنپوهنه**، ميوند خپرندويه ټولنه.
20. ناظم، محمد داود.(۱۳۹۱). **د عامه ذهنيتونو د روښانولی سرچينې**. خيبر خپرندويه اداره.
21. نور، اسدالله.(۱۴۰۱). **د روزګان فولکلور او فورلکلوريک ادبيات**، روزګان د لوړو زده کړو مؤسسه.
22. نور، ميرويس.(۱۳۹۸). **د افغانستان او اذربايجان د دولتونو اړيکي** ( د ماسټرۍ تيزس)، دعوت پوهنتون ـ کابل.
23. واسعي، عبدالخالق.(۱۳۸۷). **د کندهار دودونه**، د اطلاعاتو او فرهنګ رياست.
24. همکار، توکل.(۱۴۰۰). **سياسي ټولنيز فرهنګ**، سمون خپرندويه ټولنه.

25. هوتک، محمد معصوم.(۱۳۹۰). **پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څیړنه**،علامه رشاد خپرندویه ټولنه ـ کندهار.

26. Ainslie, R. C. (2017). Immigration, psychic dislocation, and the re-creation of community. The Psychoanalytic Review, 104(6), 695-706.

27. Giger, J. N., & Davidhizar, R. (2002). Culturally competent care: emphasis on understanding the people of Afghanistan, Afghanistan Americans, and Islamic culture and religion. International nursing review, 49(2), 79-86.

28. McGrath, B., Erickson, L. L., & Mayes, F. (2022). Dislocation and social change. Spychology in the Real World, 1-11.

29. Rostami-Povey, E. (2007). Afghan refugees in Iran, Pakistan, the UK, and the US and life after return: A comparative gender analysis. Iranian studies, 40(2), 241-261.

30. Saydee, F. (2014). Loss of culture, loss of language: An Afghan-American community. Journal of the National Council of Less Commonly Taught Languages, 16, 87-109.

Smith, J. (1903). Polygamy in the United States: Has It Political Significance? The North American Review, 176(556), 450-458